# د آنلاین امر/ارډر کولو په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې

**پوښتنه:** د WIC آنلاین پیرود لپاره کوم د خوراکی شیانو پلورنځي شتون لري؟
**ځواب:** اوس مهال، یوازې د واشنګټن Walmart پلورنځي د WIC آنلاین پیرود خدمتونه چمتو کوي.

**پوښتنه:** ایا پدې کې د Walmart Neighborhood Markets او د Walmart Supercenters شامل دي؟
**ځواب:** د واشنګټن Walmart ټول موقعیتونه د WIC لخوا تصویب/منظور شوي.

**پوښتنه:** ایا پدې کې د پولو اخوا دیخوا ایالتونو یا سرحدي ښارګوټو څخه د Walmart پلورنځي شامل دي؟
**ځواب:** په یو سرحدي ښارګوټي کې د Walmart یو پلورنځی شتون لري چې تصویب/منظور شوی کوم چې په WA ایالت کې نه دی (وارینټن، OR).

**پوښتنه:** ایا د WIC کورنیو ته د آنلاین پیرود کولو لپاره د Walmart پروفایل اړتیا شته؟
**ځواب:** هو، د آنلاین پیرود کولو لپاره لومړی ګام د یو پیرود پروفایل جوړول دي. د پروفایل ترتیب کولو سره اړوند هیڅ لګښت نشته.

**پوښتنه:** زه څنګه د Walmart اپلیکیشن ډاونلوډ کولی شم؟
**ځواب:** د Walmart اپلیکیشن ډاونلوډ کولو لپاره له لاندې لینکونو څخه یو وکاروئ.

- ایپل سټور: په ایپل سټور کې د Walmart اپلیکشنونه (په انګلیسي ژبه کې؛ ځینې اضافي ژبې شتون لري)
- ګوګل پلی: Walmart: پیرود او سیما - په ګوګل پلی کې اپلیکیشنونه (په انګلیسي ژبه کې)

**پوښتنه:** زه به څنګه پوه شم په Walmart کې کوم خواړه د WIC وړ دي؟
**ځواب:** په Walmart.com کې (په انګلیسي ژبه کې) یا د خپل Walmart **اپلیکیشن** سره تاسو د خپل WIC خواړو کتلو لپاره د لټون بار کارولی شئ. د مثال په توګه، که چیرې تاسو د WIC تصویب/منظور شوي شیدو په لټه کې یاست، تاسو د لټون بار کې "WIC Milk (د WIC شیدې)" ټایپ کولی شئ. د WIC وړ خواړه به د " **WIC Eligible (WIC وړ)**" لیبل وښایي. تاسو یوازې د WIC لخوا تصویب/منظور شوي خواړو لپاره پیرود کولی شئ **Shop your WIC benefits (د خپل WIC ګټو پیرود وکړئ)**، کوم چې ستاسو د WIC خواړو اوسنی لیست لري.

**پوښتنه:** ایا زه لاهم آنلاین پیرود کولی شم که چیرې زه خپل WIC کارت بدل کړم؟
**ځواب:** هو، تاسو د خپل Walmart پروفایل څخه زوړ WIC کارت حذف کولی شئ، او بیا د خپل نوي کارت نمر/شمیره اضافه کړئ.

**پوښتنه:** په Walmart کې د آنلاین پیرود په وخت کې زه څنګه د خپل WIC کارت سره پیسې ورکوم؟
**ځواب:** خپل Walmart حساب ته ننوځئ (په Walmart.com کې آنلاین (په انګلیسي ژبه کې) یا د Walmart اپلیکیشنکې) او "**Add new payment method (د تادیې نوې طریقه اضافه کړئ)**" یا " **Add payment card (د تادیې کارت اضافه کړئ)**" کیکاږئ. خپل د WIC کارت نمر/شمیره او WIC پن داخل کړئ. کله چې تاسو وګورئ، ویب پاڼه به له تاسو څخه د خپل WIC پن بیا داخلولو غوښتنه وکړي.

**پوښتنه:** ایا زه په ورته/هماغه اخستلو کې د WIC خواړو او غیر WIC خواړو پیرود کولی شم؟
**ځواب:** هو، تاسو خپل WIC کارت د WIC خواړو ته پلي کولی شئ چې تاسو غوره کړی او بیا د خپلو غیر WIC خواړو یا نورو توکو لپاره د تادیې بدیل بڼه وکاروئ.

# د آنلاین امر/ارډر کولو په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې

**پوښتنه:** ایا زه د WIC توکو پیرودلو په وخت کې د تحویل/بار وړلو فیس ورکوم؟
**ځواب:** هو، تاسو باید د تحویلي فیس ورکړئ که چیرې تاسو د تحویلي انتخاب غوره کړئ. WIC د تحویل/بار وړلو فیسونه نه پوښي. که چیرې تاسو د Wal-Mart + غړي یاست تحویلي/بار وړل وړیا دي. د خوراکي شیانو پک اپ/پورته کولو لپاره هیڅ فیسونه نشته. په WA کې ټولې پتې د تحویلی لپاره وړ ندي.

**پوښتنه:** که چیرې زه خپل پن په غلط ډول داخل کړم او ویب پاڼه ما له Walmart.com څخه بهر بند کړي نو څه کیږي؟
**ځواب:** د څلورو غلطو پن داخلولو وروسته، Walmart.com د دې ورځې تر نیمې شپې پورې حساب بندوي. که چیرې تاسو پن بیا تنظیمول غواړئ، د خپل WIC کارت پر شا باندې لیکل شوي شمېرې ته زنګ ووهئ.

**پوښتنه:** ایا زما د ګټو لیست به تازه شي کله چې ژر تر ژره زه خپل امر/ارډر ورکړم؟
**ځواب:** هو، ستاسو د ګټو پاتې بیلانس به ژر تر ژره تازه شي کله چې ستاسو امر/ارډر ورکړل شي.

**پوښتنه:** ایا د WIC کورنۍ د WIC تصویب/منظور شوي خواړو تبادله/بدلون کولی شي؟
**ځواب:** هو، د WIC کورنۍ د هماغه WIC تصویب/منظور شوي توکي تبادلې لپاره آنلاین "Start a Return (بیرته راستنول پیل کول)" کولی شي. دوی د تبادلې پیل کولو لپاره په هر یو Walmart کې د پیرودونکي خدمتونو میز ته هم تللی شي. ستاسو د ګټې مودې وروستۍ ورځې ته نږدې د توکو تبادله کول کیدای شي د پروسس کولو لپاره د کافي وخت اجازه ورنکړي.

**پوښتنه:** ایا د WIC کورنۍ بیرته پیسې ترلاسه کولی شي کله چې توکي په سرته رسونې/تکمیل کې شتون نلري؟
**ځواب:** هو، د WIC کورنۍ د آنلاین پیرود پرمهال بدیلي توکي غوره کولی شي. که چیرې یو توکي شتون ونلري، او یو بدیل توکي نه وي غوره شوی، نه مېلاوېدونکي توکي به په مخلتف وخت کې د اخستلو لپاره د برخه اخیستونکو ګټو حساب ته بیرته راستانه شي.

**پوښتنه:** ایا زما څخه به د کڅوړې فیس واخیستل شي؟
**ځواب:** نه، د خپل WIC کارت په کارولو سره د آنلاین امر/ارډر کولو په وخت کې به له تاسو څخه د کڅوړې لپاره فیسونه ونه اخیستل شي.

**پوښتنه:** کوم د Walmart پلورنځي د کربسایډ (یو خدمت چې پیرودونکو ته اجازه ورکوي چې خپل آرډر له مناسب ځای څخه وصول کړي) پورته کونې اجازه ورکوي؟
**ځواب:** په واشنګټن ایالت کې د Walmart ټولې پلورنځي د WIC تصویب/منظور شوي او د کربسایډ پورته کونې وړاندیز کوي.

**پوښتنه:** ایا د آنلاین امر/ارډر کولو لپاره لږترلږه آرډر اندازه (پیسې) شتون لري؟
**ځواب:** نه، د امر/ارډر لږترلږه اندازه (پیسې) شتون نلري.

**پوښتنه:** ایا وړیا بار وړلو لپاره لږترلږه امر/ارډر اندازه (پیسې) شتون لري؟
**ځواب:** نه، د بار وړلو لګښتونه ممکن پلي شي. د WIC برخه اخیستونکي د تخفیف شوي Walmart+ ګډون لپاره وړ دي کوم کې چې وړیا بار وړل شامل دي پرته له دې چې لږترلږه امر/آرډر ولري.

# د آنلاین امر/اردر کولو په مکرر ډول پوښتل شوې پوښتنې

**پوښتنه:** کله چې وروستۍ ورځ وي زه د کربسایډ پورته کونې یا تحویلی/سپارلو لپاره آنلاین امر/اردر ځای پر ځای کولی شم؟
**ځواب:** تاسو باید د خپلې ګټې په موده کې دننه خپل امر/اردر پورته کړئ. مونږ ستاسو د وروستۍ ګټې ورځې دمخه د پیرود کولو سپارښتنه کوو.

**پوښتنه:** ایا Walmart د WIC خواړو لپاره د بدیل وړاندیز کولی شي که چیرې یو محصول په ذخیره کې شتون نه لري؟
**ځواب:** هو، خو یوازې هغه وخت که چیرې تاسو د اصلي امر/اردر په جریان کې د هر توکي لپاره خپل غوره ګڼل شوی انتخاب کړی. کله چې تاسو د کتلو په وخت کې د خپل امر/اردر بیاکتنه کوئ، تاسو ته به د بدیل انتخاب کولو اختیار وړاندیز وشي.

**پوښتنه:** که چیرې زما د WIC آنلاین امر/آردر کې ستونزه وي زه له چا سره اړیکه ونیسم؟
**ځواب:** تاسو په 6278-925-(800)1 شمیره باندې زنګ وهلی شئ یا [Walmart.com - مرسته](Walmart.com) ځخه لیدنه وکړئ (په انګلیسي ژبه کې).

**پوښتنه:** ایا زه له یو ځخه ډیر WIC کارتونه کارولی شم که چیرې زه په خپله کورنۍ کې ډیری/ګڼ لرم؟
**ځواب:** نه، تاسو په ورته آنلاین امر/اردر لیږد (پیسو راکړه ورکړه) کې له یو ځخه زیات د WIC کارتونه نشئ کارولی ځکه چې دوی د هماغه کارت ډول دي. تاسو د تادیې بل ډول کارولی شئ لکه Supplemental Nutrition Assistance Program, (SNAP, د اضافي تغذیې مرستې پروګرام)، Electronic Benefits Transfer (EBT, د بریښنایی ګټو لیږد)، ډیبټ، کریډیټ، او داسې نور. تاسو به د هر بېله بېل WIC کارت لپاره د جلا آنلاین امرونو/اردرونو ځای پر ځای کولو اړتیا ولرئ.

DOH **961-1319** February 2025 Pashto

دغه اداره د مساوي فرصتونو برابرولو اداره ده.
د واشنګټن ایالت WIC اداره تبعیض نه کوي.

په بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتلو لپاره 1-800-841-1410 شمېرې ته زنګ ووهئ.
کانه یا هغه پیرودونکي چې په اورېدو کې ستونزه ولري، په مهربانۍ سره 711 (Washington Relay) ته زنګ ووهئ.
یا wic@doh.wa.gov برېښنالیک ته واستوئ.